د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

يکشنبه ۰۴ ربيع الثاني ۱۴۴۱هـ | ۰۱-۱۲-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۲

اعلاميه

# ټرمپ باید د جنګي بندي په توګه د محاکمې لپاره راوړل شوی وای،
# نه دا چې د جګړې د فاتح په توګه افغانستان ته راغی!

د امریکا ولسمشر ټرمپ د لېندی په اومه د پنجشنبې په شپه په افغانستان کې له مېشتو امریکایي ځواکونو سره د «شکرانې د اختر» په مراسمو کې د ګډون لپاره په یوه ناڅاپي سفر دغه هېواد ته راغی او دوه ساعته وروسته یې په بیړه افغانستان پرېښود. په دې اړه لاندې ټکي د غور وړ دي:

- د مسلمانانو سرسخت قاتل ټرامپ باید په فاتحانه ډول له افغانستان څخه لیدنه نه وای کړې، بلکې باید د خلافت دولت د جنګي بندي په توګه په ټرلو لاسو او پښو د مسلمانانو د قاضي د محاکمې مېز ته راښکل شوی وای او د مسلمانانو پر وړاندې د خپلو تروریستي او وحشي اعمالو جزا یې لیدلې وای.

- ټولو غلام‌فکرو ته یې ثابته کړه چې امریکا د افغانستان د خلکو پر وړاندې هېڅ ډول ارزښت ته ژمنه نه ده او ټول هغه شعارونه لکه؛ ډیموکراتیک نظام، بشري حقونه، د ښځو حقونه، آزادۍ او... چې په پلمه یې افغانستان اشغال کړی و، سوچه دروغ وو او یوازې خپلو استعماري ګټو او د اسلامي دولت د رامنځته کېدو وېرې دې خاورې ته د امریکا پښنه راښکلې ده.

- د دغه سفر له بهیر څخه د افغانستان د مسلمانو او مجاهدو خلکو پر وړاندې د امریکا د دښمنۍ روان په ښکاره احساسېږي؛ ځکه د امریکایانو د «شکرانې اختر» د ورځې ټاکنه، ناڅاپي سفر، د افغانانو له نورو رهبرانو پرته یوازې له لومړۍ درجې غلام سره لیدنه، تر جامو لاندې زرهې اغوستل او د جنګي موضع غونډې د بوجیو د دفاعي دېوال تر شا وینا، ټول پر دې دلالت کوي چې افغانستان د دښمن خاوره ده او د دښمنانو په خاوره کې باید په امنیتي تدبیرونو کې بې پروایي ونه شي.

- د ټرامپ د دغه سفر اصلي موخه د امریکا د ولسمشرۍ ریاست د ټاکنو لپاره د کمپاینې پروګرام یوه برخه، له طالبانو سره د خبرو اترو د پیلولو اعلان او خپلو ماتې خوړلو سرتېرو ته روحیه ورکول وو، چې ورته روښانه یې کړه چې په نږدې راتلونکې کې د سولې د پروګرام په وسیله اشغالګرانه اسالیب پر استعماري هغو بدلېږي او ډېر شمېر امریکایي نظامیان به بېرته امریکا ته ور وګرځي.

**نو اې مسلمانانو!** د اسلامي خاورو پر خاینو چارواکو او لاسپوڅو نظامونو باور مه کوئ، ځکه ټول د کفارو د پروګرامونو یوه برخه دي او د سعودي، پاکستان، ترکیې، او نورو اسلامي خاورو د چارواکو او نظامونو په څېر اشرف غني هم خپله له دوی څخه دی او د افغانستان له مسلمانانو سره هېڅ تړاو نه لري.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**